وهمچنان شمارا امت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشما گواه باشد

شهادت

(٨) صفحه

ارگان مركزى حزب اسلامى افغانستان

شماره مسلسل (٤٢٨) سال چهاردهم ،شماره (١٢٤)پنجشنبه (٢٦)جدي ١٣٧٠ هـ.ش- (١٢)رجب ١٤١٢ هـ.ق- (١٦)جنوري ١٩٩٢م

رازمحمد پكتين ازوزارت داخله بركنار گرديد

سكرتريت : ٢٥جدي ١٣٧٠
اخبارواصله ازمركزولايت كابل به شرح ذيل مشعراست.
رازمحمد پكتين وزيرداخله رژيم بفرمان نجيب ازوظيفه بركناروعوض آن مانوكي (منگل) بصفت وزيرداخله تعين گرديده است:

قراريك خبرديگربريد جنرال بابه جان رئيس رياست خا دپنج رژيم كه درسركوبي قيام افسران نقش عمده داشت وازقهرمانان رژيم نجيب يادمي شد ، معاون انحصارات رابه قتل رسانيده است . گفته شده كه مقتول ابتدا به ضرب مرمي وبعداً توسط برچه به قتل رسيده است.

قراريك خبرديگرازمنبع مذكور تمام اوراق وكودغيرهايكه فعاليت هاي افراد خاد رژيم درآن درج بود به تاريخ ١٢ جدي ١٣٧٠ تحت نظر نجيب درورياست تحقيق حريق گرديد.

الهي فرمان

اي مومنانو له الله نه وويرېږي اوسمه خبره كوي الله به ستاسي عملونه سم كړي اوستاسي له ګناهونوځخه به درتيرشي هرڅوك چي دالله اودهغه درسول اطاعت وكړي هغه به لوي بريااليتوب ترلاسه كړي .
(الاحزاب ٧٠ - ٧١)

ورور حكمتيار دګرديز وروستي تاريخي جګړي دشهيدانو دفاتحي په مراسموكي برخوالوته په خطاب كي وويل :

زه فكر نه كوم چي زموږ ګاونډي ملكونه داغلطي وكړي چي دهغوي له لاري پردي پوځونه دجنګ لپاره افغانستان ته راشي

● هغه څوك چي دانتخابا باتو مخالفت كوي په حقيقت كي هغوي په خپل ملت اعتماد اوباورنه لري

دپكتيا مجاهد ولس هم چي په ز رونو شهيدان يي وركړي په هيڅ صورت ددي لپاره تيار نه دي چي ظاهرشاه ومني

● زه په ډاګه اعلانوم چي نه څوك دنجيب بقا تضمينولاي شي اونه ددنيا هيڅ ځواك ظاهرشاه افغانستان ته راوستلاي شي

زماهيله داده لكه څنګه چي الله روسي امپراطوري دجدي په شپږمه ختمه كړه ان شا الله همداسي به دنجيب رژيم هم د ثور په اوومه دمجاهدينو په لاس راپرځوي

دګرديز دستري اوتاريخي جګړي دشهيدانو دفاتحي له پرمه ږكي شانداره غونډي ته دحزب اسلامي افغانستان مجاهد امير ورورانجنير حكمتيار عالمانه وينا واورو له چي دادي ددي وينا بشپړمتن دګرانو لوستونكو لپاره خپروو .
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
الحمدلله وكفى وسلام علي عباده الذين اصطفى وبعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم
بسم الله الرحمن الرحيم
. فلاتحسبن الله مخلف وعده رسله إن الله عزيز ذوانتقام . صدق الله العظيم (سوره ابراهيم - ٤٧)
زمادايمان اوعقيدي ورونو !
دادي په دغه ستره غونډه كي چي دپكتيا ولايت په لسهاوزره ګسان پكي راغونډشوي دګرديز دوروستي جګړي دپنځه پنځوسوشهيداوفاتحه اخلو، چي دبارلس تنه بي دبيلابيلو جبهو قوماندانان ووهغه چي دخوست په ستره فتحه كي بي ستره ونډه وه اولادخوست دجګړي ستومانتيا اوستړيابي نه وه دمه شوي چي دګرديز سنګرونوته لاړل اوهلته په شهادت ورسيدل .
په دي ډله كي زموږلوي لوي شخصيتونه لكه قوماندان شكرالله جان شهيد، قوماندان حاجي خيرګل شهيد ، قوماندان الحاج معروف خان شهيد، قوماندان خيال (٦)مخ

ستام نخابتكه برانداره معربان نعابت ملهم آمت

سر مقاله

مجاهدين دمستقبل دقيادت په وړانګوكي

نوي نړيوال نظام چي له يوي مخي داسلامي امت دله منځه وړلو لپاره پلي شوي. دعراق له تسخير نه وروسته دادي، پدويم قدم غواړي، زموږ دتاريخ جوړوونكي جهادګټي، چي په افغانستان كي داسلامي حكومت قيام دي، له منځه يوسي. اوهم په سيمه كي دخپل پلان دتحقق لپاره ديوه ول ابتكاراتو بهير پيل كړي، اويدي توګه چاپيريال پرخپلو شيطاني لړوګلابندكړي . پدي لړكي په يووخت هنداوپاكستان ته ديوه امريكايي سناتور" پريسلر " سفرته ګوته نيولي شو . پريسلريه هندوستان كي دپنجاب دخوځېږو وارداتو اوهم دكشمير دازادي پالي اسلامي غورځنګ ټوله پړه دپاكستان په اووږواچوله ، اودكشمير دمجاهدينو دقرباني پرخوځښت اوهم بي پرهندي اروا سوځوونكومظالمو له يوه سره سترګي پټي كړي .
دامريكايي سناتور داسفرهغه وخت ترسره كيږي ، چي دپاكستان ديوځ لوي درستيزخپل دامريكا سفربشپړكړي دي . پاكستان داسلامي امت ديوي برخي په توګ كه دامريكا په باب هرڅومره دخپلي پاليسي له انعطاف نه كاروااخلي، خودنړيوال ښكيلاك له خوادبخښني وړنه ګڼل كيږي، امريكايي سناتوريه څرګند ډول وويل ، چي دامريكاولس له اسلامي بم نه په سخته ويره كي دي اودايي هم زياته كړه ، چي دمنځني اسيا دپينځو شپږوهيوادوپه ګډون دايران ، پاكستان اونوروګاونډيو ځواكمن اسلامي بلاك دلويديځ لپاره هيڅكله هم دزغم وړنه دي، دااوداول نورجوړښتونه پرنړيوال امن بوكلك ګوزاردي . همداډول په الجزاير كي داسلامي تحريك دبرياليتوب اوښېړي فتحي پرضد چي دپوځ اونورولويديځ پالومشابعو له خواكوم ګام پورته شو، تيغ په تيغه پكي لويديځ ښكيلاك ملوث دي . دالجزاير دانتخاباتو پروخت چي داسلامي غورځنګ ديري هنګامه راپورته شوه ، نولويديزوهيوادونو په ډېرتشويش دالجزاير پوځ اوسيكولر پستانو ته تلقينوله ، چي زرتر زره بي په يوه نه يوه لوري بايد مخه ونيول شي، اوكه نه ، دهغوي په اصطلاح بنيادګرايان به نړيواله سوله چيلنج كړي . اوهمداسي وشول دالجزاير دجمهورريس استعفي په حقيقت كي دبرياليو مسلمانانو پرضد دنړيوال كفرله خواپلان شوي دسيسه وه چي ديوي كودتاپه شكل څرګنده شوه همداحالت دقزاقستان داتومي تنصيباتوهم دي، چي پهوديي پخپل كنترول كي راوستل غواړي، خوداسلامي نړي دي خواته پاملرنه نه كول ډيره دحيراني خبره ده . متاسفانه دسږكال اسلامي كانفرانس هم دپخوالخوندي روايتي بڼه ولرله ، اوپريكړي پركاغذ وبندي پاتي شوي .
داسلام او مسلمانانو په باب چي دنړيوال ښكيلاك حساسيت اوچتيكي دښمني ته وكتل شي، نوداداسلامي نړي ترټولو ستره بدمرغي ده ، چي تراوسه لاددغسي ځواكمن دښمن په باب محاذ آرايي ځه چي دحكومتونو په سويه لا دوزلونكي دښمن په تشخص كي هم پاتي راغلي، اوداديښمني (٧)مخ

دچارآسياب په ولسوالي كي ددښمن يوه ستراتيژيكه پوسته فتحه شوه

كابل دمرغومي ١٣ مه .
دكابل ولايت د چهار اسياب ولسوالي وبارمنومجاهدينو دميډياپه حواله خبر راكړي چي دنوموړي ولسوالي سرتيرو دروان كال دمرغومي مياشتي په (١٣)مه نيټه د موسهي په سيمه كي دلاس پوځي رژيم يوه ستراتيژيكه پوسته دخپلو راكټونوتربريد لاندي ونيوه چي په نتيجه كي نوموړي پوسته فتحه دوه كسه عسكر مړه اوڅلوركسه نور ژوندي ونيول شول.
خبرځاي ليكي دمجاهدينو پدي بريالي بريد كي يومبل هاوان څلورميله سپكه وسله اوزياته اندازه نظامي مهمات په ولجه نيولي اوله مجاهدينو څخه يوكس دخپل كړي شوي مين دچاودني له امله ټپي شوي اونورو مجاهدينو ته كوم تاوان ندي رسيدلي.

با فتح ده پوسته دشمن درهرات دو صاحب منصب با ٦٠ نفر عسكر ومليشه اسير شد

هرات -ميديا :
جگتورن عزيزالله "افضلي " ازولايت هرات گزارش مي دهد مجاهدين به تاريخ ١٤ جدي سال جاري طي عمليات گسترده به شاهراه عمومي هرات -تورغندي ده پوسته به اصطلاح امنيتي رژيم كابل رادرمنطقه دهنه كمركلاه " فتح نمودند .
طبق خبر درجريان عمليات جگرن عبدالروف "عسكريار" همراه با قوماندان كندك ٥٦ . زرهدارمستقردرهرات با ٦٠ . نفرعسكر ومليشه اسير مجاهدين گرديد.
مجاهدين يك ميل توپ ٧٦ ملي متري ،يك ميل ماشيندارزيو ٥ قبضه تفنگچه مكاروف ، يكعراده تانك برديم ، ١٦ عراده موتر خورد وكلان ، ٥١ عراده موترسايكل ، ١٢ . ميل سلاح خفيفه مختلف النوع ومقاديرزياد مهمات نظامي رابه غنيمت گرفتند طبق گزارش شاهراه هرات - تورغندي درين روزها به روي ترافيك مسدود است.

دهرات په ولايت كي ددښمن يوزغروال ټانګ ويجاړ اودوه صاحب منصبان ووژل شول

هرات دمرغومي ١٢
دهرات ولايت دانجيل ولسوالي باتورومجاهدينو دميډيا په حواله خبر راكړي چي دنوموړي ولسوالي توروزنو دروان كال دمرغومي دمياشتي په ١٢ مه نيټه د محله بابا په سيمه كي ديوه خښ كړشوي مين په وسيله دكمونست رژيم يوزغروال ټانګ ويجاړ اويكي سپاره دوه كسه صاحب منصبان يي مړه اودټانګ نوره عمله ټپيان شوي دي.
ديوه بل خبر له مخي مجاهدينو دانجيل ولسوالي دادران په كلي كي ديوه بل خښ كړ شوي مين په وسيله دملحد رژيم (٥) كسه مليشان وژلي اودمليشوقوماندان غلام حضرت يي سخت ټپي كړي دي.

دالجزايرداسلامي تحريك پرضد دكفري ځواكونو وروستني توطيه وغندل شوه

افغان نيوز اجنسي دمرغومي ٢٤
دروان كال دمرغومي دمياشتي په (٢٤) مه نيټه دافغانستان مجاهدو حقوق پوهانو دالجزايردووستيواستعماري توطيو په ضد لاندېني اعلاميه صادره كړيده :
١- موږدالجزاير د اسلامي تحريك پرضد دكفري اوالحادي كمونستي ځواكونو وروستني توطيه په كلكه غندو.
نړيوالو ته معلومه ده چي دالجزاير په وروستنيو انتخاباتوكي دنجات اسلامي ګوند قاطع اكثريت ترلاسه كړ اوداحق يي ځان ته حاصل كړي چي پدي هيوادكي يواسلامي حكومت جوړكړي خومتاسفانه چي ددي هيواد الحادي ځواكونه دبين المللي استعماريه مشري اولارښونه مخكي تردي چي دانتخاباتودوهم پړاوترسره شي دنوموړي هيواد رئيس جمهور دخپلي ناوړه استعفاپه ترخ كي چي ترڅو مسلمانان بشپړ برياليتوب ترلاسه نكړي خپل قدرت دنوموړي هيواد پوځ ته ورحواله كړ او انتخابات منسوخ اومارشالا ولګيده .
ترټولو نه دخنداوړخوابريښي چي اسلامي تنظيم يي په انتخاباتوكي په غلطي متهم كړ اوحال داچي دملك (٧)مخ

بادرمطيع "مؤدي " معاون جبهه مركز غزني درمصاحبه باشهادت

برادر مطيع الله (مؤدي) قوماندان نظامي ومعاون جبهه مركز غزني (قرارگاه ابوالمجد مجدود (ع)) كه درين اواخر از جبهه به پشاور تشريف آورده اينك خبرنگارشهادت با استفاده ازفرصت درمورد قضايا و رويداد هاي جاري افغانستان باوي مصاحبه انجام داده كه به خدمت تان تقديم مي گردد.
برادر مطيع الله درمورد وضع جنگ گفت در ولايت غزني الحمد الله وضع نظامي به نفع مجاهدين كفر شكن بوده تمام ولسوالي ها وعلاقه داري ها آزاد مي باشد صرف يكتعداد ناچيز عناصرشرف باخته وملحد درمركز غزني لحظات مرگبار خويش را سپري مي نمايند آنهم در ساحه خيلي ها خورد كه عمليات سلاح هاي دوربرد مجاهدين طورمداوم بالاي شان ادامه دارد درهمين چند وقت محدود پوسته هاي كوه نوشته وكوه سخي صاحب فتح گرديده ودريك عملياتيكه درمسيرشاهراه كابل - غزني در دوكيلومتري فرقه ١٤ غزني بالاي افراد لواي ٥٢ . كه اموال مردم را به غارت ميبردند ازطرف مجاهدين ماصورت گرفت پنج نفرازافرادمذكورمردار وسه نفر با سلاح شان زنده دستگير واموال به غارت برده مردم دوباره بدست آمد وهمچنان درعمليات ديگركه درمسير شاهراه غزني - يونت صورت گرفته يك موتر عمله همراه موادآن طعمه حريق شد ويك عراده جيپ روسي همراه سه نفر وسه ميل سلاح به غنيمت مجاهدين اين قرارگاه افتاد. خلاصه اينكه وضع دولت ملحد درمركز غزني نهايتا خراب ميباشد.
ص ٣

مهاجرين افغان مقيم دهلي سيزدهمين سالروزهجوم روسها رادرافغانستان تقبيح نمودند

گزارش ها ي واصله ازدهلي مركز هندوستان حاكي است كه مهاجرين افغاني مقيم دهلي به تاريخ ٦ جدي سال جاري سيزدهمين سالروز هجوم قشون خون آشام روسي را بركشورما طي رهيمايي بزرگي كه به ابتكار نمايندگي حزب اسلامي مقيم دهلي ترتيب وتنظيم گرديده بود تقبيح ومذمت نمودند.
گزارش حاكيست رهپيمايي كه درآن تعداد زياد از مهاجرين افغاني مقيم دهلي شركت ورزيده بودند از ساحه اندياگيت " شروع وبه طرف " بوت كلب " حركت نمود هم چنان تعدادازبرادران مقالات واشعار را راجع به مداخلات نظامي روسها قرائت نمودند كه مورد دلچسپي حاضرين قرارگرفت . دراخير قطعنامه به حضار قرائت گرديده محفل بادعائيه خاتمه پذيرفت .
نمايندگي حزب اسلامي مقيم دهلي .

مابا خداي خود تعهد كرده ايم كه ياد رسايه حكومت اسلامي زندگي مي كنيم ويادرين راه به شهادت ميرسيم

داسلام په خلاف دکفراونفاق ګډکوښښ اوزموږ مسئولیت ؟

محمدخلیل

له اولي ورځي نه دوه طاقتونه کفراو نفاق داسلام په خلاف لګیادي جنګ کوي، که پراسلامي تاریخ نظرواچولي شي نوهره پاڼه ګواهي ورکوي چي داسلام په لاره کي څومره مشکلات اوختلونه کافرانوپیداکړي لدي نه زیات مشکلات منافقانوهم پیداکړي دي . دکافرو زیات پلانونه دمنافقانو دپټو سازشونو له کبله کامیاب شویدي اودهغوي په کامیابي کي لوي لاس دمنافقینو پاتي شویدي ، داځکه چي کفر خویوه ښکاره ځیره وي اومسلمان ترینه ځان ساتلي شي ، لیکن دمسلمانانو په ټولنه کي ناست منافق چي داسلام جامي ئي په تن کړي وي داسلام اومسلماني په نوم داسي کارونه کوي چي تورو خلکوته هیڅ پته نه لګیږي اودچنبچي پشان له دننه نه کارخرابوي .

دکفر او اسلام ترمنځ په کشمکش کي اوس هم همدادواړه قوتونه په جنګ کي مشغول دي او عملاً لګیادي داسلام په ختمولوکي خپله دنده ترسره کوي . لدي کبله هرمسلمان ته پکاردي چي دښکاره کفردختمولو اوله هغه نه دځان ساتلو سره سره دنفاق دختمولو لپاره هم خپل ځان چمتو کړي ، الله پاک پخپل کلام قرآن کریم کي دنوروډلارښوونو سربیره دمنافقانو نښي اونښاني هم بیاني کړیدي ترڅو مخلص اوسوچه مسلمانان په لستوڼي کي پټ خاماران (منافقان) وپیژني اودهغوي له ضررونو څخه خپل ځانونه وساتي راځي چي دالهي آیتونو ترڼاالاندي په افغانستان کي موجود منافقان وپیژنو اوځانونه ترینه وساتو دمنافق لمړني نښه داده چي په خوله یوڅه وائي اوکوي بل څه لکه چي الله (ج) فرمائي : ترجمه هغوي په ژبه هغه څه وائي چي په زړونوکي نه وي . (فتح - ۱۱)

دوهمه نښه داده چي هغه خودغرض اوموقع پرست وي لکه چي الله پاک فرمائي ترجمه دوي ستاسي منتظردي، که چیري تاسي فتح ومومي دالله له لوري نووائي دوي : آیاموږ له تاسوسره نه وو ؟ دریمه نښه داده چي مسلمانانو سره هم اړیکي ساتي اوکافرانوسره هم ترڅو له دواړونه په امن کي وي لکه چي الله فرمائي ترجمه غواړي چي دوي له تاسونه هم په امن کي پاتي شي اوله خپل قوم نه هم . النسا ء - ۹۱)

ځلورمه نښه داده چي له کافرانو سره مینه کوي اوله مسلمانانو څخه کرکه لکه چي الله پاک فرمائي : ترجمه : هغوي مسلمانان پریږدي اوله کافرانوسره دوستي کوي .(النسا ۱۳۹)

پنځمه نښه داده چي عزت اوسرخ په کافرانو کي لټوي لکه چي الله پاک فرمائي : ترجمه : آیالټوي تاسوکافرانوسره عزت ؟ النساء ۱۳۹

شپږمه نښه داده چي خپلي فیصلي په اسلامي شریعت نه بلکي په غیراسلامي قوانینوباندي کوي لکه چي الله پاک فرمایي : ترجمه دوي غواړي چي دفیصلي لپاره طاغوت ته رجوع وکړي ي النسا ء (۶۰)

اومه نښه داده چي په ټولنه کي فحش اوبداخلاقي خوروي لکه چي الله پاک فرمائي : ترجمه کوم خلك چي غواړي په مومنانو کي فحش خورشي هغوي په دنیا او آخرت کي ددرد ناك عذاب مستحق دي . (نور ۱۹)

په قرآن کریم کي دمنافقانو په باب ډیري زیاتي ښووني شویدي خوپورتني یادي شوي نښي نښاني دمنافقینو دپیژندلو لپاره بس دي .

که موږ په اوسني حالاتو باندي نظرواچوونودافغانستان مجاهداومسلمان ولس ته صفا معلومیږي چي دپورتنیو یادشوو نښو نښانو لرونکي یوه ډله په افغانستان کي داسلام اوداسلامي حکومت په خلاف خپل منافقانه کردارپه اداکولوکي مشغول دي اوکوښښ کوي چي دکفرسره دسازش په ذریعه په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړیدو مخه ونیسي . دغه ډله خلك دجهاداوقرباني په وخت کي په کفري هیوادونوکي غلي ناست وو اوهلته یې دعیش اوعشرت ژوند تیراوه ، په هغه وخت کي هغوي داسلام دګټي لپاره یوحرف هم نه و اونه دافغانستان آزادي ورته څه اهمیت درلود، خوچي کله کفرله ماتي سره مخامخ شو اومسلمانانو ډیري په درشل کي ګام کیښودنودغه موقع پرسته ډله ښکاره شوه اودا تبلیغ ئي پیل کړچي موږدافغانستان دمسلمان ولس دخدمت لپاره چمتویوموږ دافغانستان له وګروسره زیاته مینه اوهمدردي لرو اوغواړوچي خدمت ئي وکړو که موږددوي په کرداراوعمل باندي نظرواچو نوداخبره لکه لمرڅرګندیږي چي دوي نه اسلام سره څه مینه لري اونه وطن سره بلکي ددوي مینه له هغه شیطاني عمل سره ده چي ددوي په ګنده اوچټلو نفسونو کي ئي ځاي نیولي دي . دوي غواړي چي مسلمانانوسره دمیني په بهانه دمنافقت هغه شیطاني عمل بوځاي بیا تکرارکړي چي له اولي ورځي نه یې داسلام اومسلمانانو پرخلاف کارولي دي، په افغانستان کي کفردجنګ په میدان کي مسلمانانوته په ماته ورکولو کي په بشپړه توګه ناامیده شویدي اونښي کولي چي له مسلمانانو سره تیغ په تیغه وجنګیږي همداوجه ده چي کافرو اومنافقانو یوځلي بیا پخپلو کي لاسونه یوکړي دي اوغواړي چي په ګډه داسلامي حکومت مخه ونیسي . دافغانستان غیرتي اوویښ ملت ته پکار دي چي دکفر اونفاق دګډسازش په خلاف خپلي سیني ډالي کړي اوډیري تږدي چي داسلام دغه دلستوڼي ماران اوپټ شیطانان پخپلو ناولو مقصدونو کي کامیاب شي داسلام له ښکاره دښمن نه ځان ساتل آسان کاردي خودهغومنافقینو پیژندل اوورڅخه ځان ساتل مشکل کاردي چي دمسلمان اوداسلام په نامه ئي داسلام بیخونه وباسي لیکن که چیري لږ غوندي غوروکړي شي اودغسي خلك دقرآن اوحدیث په تله کي وتللي شي نوددوي له اعمالو اوکردارونه داحقیقت لکه لمرڅرګندیږي چي دوي داسلام اومسلمانانو سره هیڅ همدردي نلري . دافغانستان هرمسلمان ته پکاردي چي پدي نازك وخت کي دچا په خوږوخبرو تیرونه وځي بلکي دهغه مخکیني اواوسني کردارباندي نظرواچوي، دمسلمان شان ، دانه دي چي هغه دي له یوي سوري نه دوه ځلي وچیچل شي . دافغانستان پرمسلمان ولس چي څومره لوي لوي . مصیبتونه راغلي ددي ټولو مسئول همداظاهر اوملګري یې دي . اوس چي له څوارلس کاله مسلسل جهاد اوقرباني نه وروسته دپنځه لسولکوشهیدانو دوینې سیلاب دکفراونفاق ټول بندونه لاهوکړي دي اوددي خبري پرخ امکان پیداشویدي چي په آینده کي به دکفراونفاق تغر ورټولیږي دواړه ډلي یوځلي بیا کوښښ کوي چي خپل شیطاني ځالي وبغي ، خودلوي الله په فضل اوکرم تورنښي کولي چي دافغانستان مسلمان ولس تیرباسي ځکه چي ددوي څېري له پخوانه دافغانستان مسلمان ولس پیژندلي دي اوکله هم ددوي په دوکه کي نه راځي .

ملت ما ظاهرشاه را به محاکمه میخواهد

ذبیح الله قریشي

قبل ازآنکه آقاي آصف نواز رئیس ارتش پاکستان به روم برود وبانماینده شاه سابق که به برگرداندن اوبه کرسي اقتدار سالهااست که استکبار جهاني تلاش دارد ، صحبتي داشته باشد، رادیوي استعماري بي بي سي گزارشي ازدرامه ننگین که به ایماواشاره استعماردرکابل براه افتاده بود، بتاریخ ۷و۸ برج جاري براي جلب توجه مردم جهان ومحافل سیاسي به شاه سابق افغانستان پخش کرد که به تعداد سه صدنفر درپارك زرنگارکابل به طرفداري ظاهرشاه اجتماع نموده ، جمعیت دیگري برضد ظاهرشاه وبه جانبداري ازاستادسیاف مظاهره نمودند که درین وقت قواي امنیتي براي پاشان ساختن تظاهرکنندگان وتأمین امنیت مداخله نمود .

باپخش این خبربي بي سي ماهرانه درچند نقطه دیگر نیز تماس گرفت تلمگریه نقع اهداف غرض آلود استعمارغرب ذهنیت ها راتوجیه نموده باشد، گفت : عجیب درگذشته تابحیث ظاهرشاه رابه وي برگردانیده است ، وباز ازقول طرفداران ظاهرشاه بدون آنکه ازشخصي وياجمعیتي معین نام برده باشد، علاوه کردکه : ۷۷ درصد مردم افغانستان طرفدارظاهرشاه مي باشد .

ازآنجائیکه خاصیت اصلي بنگاه خبري استعمار، تغییردادن وحکومت راندن برذهنیت هاي مردم وواورونه جلوه دادن حقایق مي باشد، رادیو بي بي سي ازآغازجهاد برضدمنافع ملي ما دست به چنین تبلیغاتي زده وهمواره کوشیده است تا ازحقایق جهاد تصویرغیر حقیقي بکشد وبدین ترتیب شاه را شخصیت مهم وحلال مشکلات افغانستان معرفي مینماید تازمینه رابراي سفرآغاي آصف نواز مساعد گردانیده باشد وازسوي دیگرحکومت دیکتاتوري وغیرانساني کمونستهارا درافغانستان رنګ دیموکراسي بخشد، به این صورت زمینه پذیرش آنهارا درحکومت آینده افغانستان آماده ساخته باشد . ورنه کیست که ازماهیت رژیم جهنمي کمونیزم که درسال ۱۳۵۷ برابریکه قدرت تکیه زده وبه پشتیباني ارتش بي آزرم کمونیزم بقدرت رسیده وتاااکنون به عمرننگینش ادامه داده است ، نداند که برمبناي اصول کمونیزم که جبر، قتل، شکنجه بیداد وستم میباشد ، استوار است .

فقط پایمردي واستقامت ملت مجاهد مابوده است که نه تنها رژیم کابل را به زانودرآورده وکمونیزم را از ریشه برکنده بلکه لرزه براندام استکبار جهاني درراس آن امریکا نیز انداخته که امروزبه جنگ ملت مجاهد ماباهمراهان جهاني اش بیرون آمده است .

رژیم مزدورکابل سالهااست که براي دوام اقتدار ونجات ازخشم مردم مسلمان ، کوس آشتي ملي رانواخته ازختم قتل ، خونریزي وبرادرکشي ! صحبت مي کند . ولي درعمل ضدمنافع ملي گام برداشته به قتل وخونریزي وچپاول همواره ادامه داده ومیدهد .

امروزکه بساط ننگین کمونیزم در اثرایثار ملت مجاهد ما ازسراسرگیتي برچیده شده است ، رژیم کابل به اشاره باداران غربي خویش داد از دیموکراسي وآزادي مي زند ، گاهي اعلان مي کند که درافغانستان احزاب مختلف گردهم آمده به سرنوشت آینده وطن فکرمي کنندوگاهي حزب اسلامي تشکیل میدهد وجراید غیروابسته رابدست نشرمي سپارد !

این همه وهمه جزدسیسه بازي وفریب چیزي دیگري بوده نمي تواند چه همه میدانندکه درافغانستان تاپ تحریر به اختیار افراد آزادانه قرارندارد چه رسد به این که مطبعه آزاد وجود داشته باشد ونشرات غیر وابسته منتشر گردد .

کي این حرف را باور کرده مي تواندکه احزاب ضددولتي علني وطوروسمي مقابل حکومت مزدورکابل درفضاي آزاد ایستاده وموضعگیري مي کند . همه مردم میدانند که رژیم درزیراین نقاب ، چهره جهنمي ومرگبارش رامي پوشاندورنه جهانیان شاهد اندکه زمامداران مکاررژیم ازوهله بقدرت رسیدن تااکنون دهقان راازمزرعه ، محصل را ازدانشکده ونویسنده وعالم را از سرکتاب بدون هیچگونه جرمي به زندان برده وبه قتلگاه کشیده اند .

این که گویابه تعداد سه صدنفر درپارك زرنگار اجتماع کرده وخواهان برگشتن شاه به افغانستان میباشند ، درامه مضحکه آوري بیش نیست چه هرکس مي فهمدکه این درامه را رژیم به ایماواشاره باداراناش براه انداخته است تا ازیك طرف به مردم ساده لوح نشان بدهدکه رژیم جهنمي سابق ، اصولش راعوض کرده ومردم آزادانه بدون خوف نظرشان را ابرازمیدارند وازطرف دیگر زمینه را بدین ترتیب به برگشتاندن شاه که رژیم حمایت خویش رادرپناه آن مي جوید، مساعد ساخته باشد ، ازسوي دیگر براي اینکه درامه رالباس حقیقت پوشانیده ورنگ بهتر دیموکراسي بخشیده باشند، چهارنفرخادیست را به طرفداري استادسیاف به خیابان مي کشد تاآنهامرگ به ظاهرشاه را سردهند این درامه پرده دیگري دارد که پولیس رژیم غرض تأمین امنیت مداخله مي کند وبدون آنکه بیني این مخالفان سرسخت خون شود ، معرکه پایان یافته ، پرده مي افتد !

به هیچ کسي این حقیقت پوشیده نمانده است که استکبار جهاني به سرکردگي امریکا درصدد وارونه جلوه دادن حقایق انقلاب ما ازصبح نقره فام که سپاهیان عزیز اسلام ارتش وحشي سرخ را ازافغانستان مجبور به فرارنمود، بیرون آمده است .

زیرا پیروزي اسلام واستقرار حکومت اسلامي درافغانستان ریشه هاي کفر جهاني را یکسره آتش خواهد زد وبرجلال وجبروت غرب مثل شرق خط بطلان خواهد کشید .

بناء استعمارگران ازین سیل خروشان وظلمت سوز، جزبرگردانیدن ظاهرشاه چاره دیگري را سراغ نمي بینند . روي این دلیل است که رادیو بي بي سي اعلان مي کند که ۷۷ درصد مردم افغانستان خواهان ظاهرشاه مي باشد . و امریکا پاکستان را زیرفشار قرارمي دهد تا ازموقف اصلي وانساني خویش دربرابرجهاد برحق ملت افغانستان عدول نموده ودربرگشتاندن ظاهرشاه به کرسي اقتدار غرب راياري نمایدکه متاسفانه دیدار آقاي آصف نواز احتمال همکاري وهمگامي پاکستان باغرب رادرین راستا قوت مي بخشد .

غرب درین محاسبه خویش همانطوریکه روسها درتجاوز خود به افغانستان مرتکب اشتباه شده بودند، دراشتباه رفته است . باید غرب این رابفهمدکه ملت افغانستان خواهان برگشتن شاه اند ! ازجمله دارودسته خلق وپرچم که ازملت تجرید شده وپناه گاهي جزشاه راني بینند ویکتعداد ازافراد مجاهدنما که هیچ نوع نقشي درسنگرنداشته وآنهانیز بقاي خویش را درنظام غیر جهادي جستجو میدارند که همه اینها یك درصد ازمردم افغانستان راتشکیل نمي دهند .

باقي همه ملت که ظاهرشاه ودارودسته خائن وي راکه مرتکب جنایات نابخشودني درافغانستان گردیده ودستان شان تاآرنج درخون ملت بیچاره مارنگ بوده عامل اصلي تجاوز ارتش روسیه شوروي برکشورمي باشد به محاکمه مي خواهند .

بلي، این حرف درست است که باید ظاهرشاه به افغانستان برگردد وصورت حساب چهل ساله حکومت خائنانه اش را برملت یکایك داده اموال ودارایي ملت راکه به بانک هاي یهودونصاري ریخته وبه یغما برده است ، برگردانیده قصرهایي راکه اووخانواده ودارودسته اش ازخون ملت درغرب بنانهاده اند، به وارثان اصلي اش برگردانیده شود، که به این اساس باید ظاهرشاه و دارودسته اش به افغانستان فراخوانده شده و به محکمه سپرده شوند، تا عبرتي باشد برحاکمان ستمگر درتاریخ .

غرب بااین دسیسه بازي هانمي تواند چهره دیموکراسي رابروردي رژیم منفورنجیب کشانیده ونظام منفور ستم شاهي را برگرده ملت ماتحمیل نماید .

غرب این را باید بداندکه ملت مجاهد افغانستان مصمم است که تا استقرارحکومت اسلامي وسرنګوني کفروظلم ، سلاح خویش را برزمین نمي گذارد که درین راستا آماده هرگونه قرباني مي باشد. بهتراست غرب دست ازسرملت مابردارد ورنه این حقیقت همانطوریکه درمعرکه خونین جهاد به روسهامعلوم شد ، به غربي هانیز ثابت خواهدشد وملت مابعون خداوند ازین سنگري که غربیها احداث کرده اند، نیز پیروزبدر مي آید چه پیروزي مومنین راخداوند تضمین نموده و ما به آن یقین کامل داریم ، ومادرین نبرد ان شاء الله برغرب پیروز مي شویم .

دمنځني ختیځ لپاره دسولي امریکایي پلان دانصاف سپکاوی دي

ژباړه تورګل څمکنی

مشهور لیکوال اسرار الحق ددسمبر په لومړي نیټه دمسلم ورځپاڼي په ۱۹۱ ګڼه کي لیکي چي :

دمادرید کانفرانس چي دامنیت شورا د ۱۹۶۷ م کال د ۲۴۲ او ۱۹۷۳ م کال د ۳۳۸ فیصلو پر اساس په منځني ختیځ کي دسولي دټینګښت لپاره دامریکاپه مشري پیل شو ، ترځوورځو وروسته دتعطل سره مخامخ شو.

داسرائیلو حکومت دمذاکراتو د ناکامي دلمانځني په خاطر دګولان په لوړو کي دیهودو دمیشته کیدو لپاره په ساختماني پروژو پیل وکړ اوپه ډیره بي شرمي یې اعلان وکړ چي دګولان لوړي داسرائیل دخاوري یوه برخه ده اوتل به په اسرائیلو پوري تعلق ولري .

دنورو هدفونو ترڅنګ دمادرید دمذاکراتو په نتیجه کي دفلسطین دآزادي تنظیم اودانتفاضي غورځنګ یوډبل سره مخالف شول ، په داسي حال کي چي دمذاکراتو مخالف ګروپونه داسرائیلي پوځ دتیریو قرباني شول ، همداراز دمذاکراتو طرفدارو هم پر مخالفینو حملي وکړي ، ډیره دافسوس خبره ده چي دعرفات طرفدارانو هم د مذاکراتو ملاتړ وکړ او داسرائیلو په مرسته یې دمذاکراتو پرمخالفو ډلوبه حملوکي برخه واخیسته چي دحماس تنظیم یې رهبري په غاړه درلوده ، همدا راز دمذاکراتو پرخلاف په نیول شوي فلسطین ،اردن اوبیروت کي مظاهري وشوي.

که په ځیرسره وکتل شي دمادرید کانفرانس فلسطینیان په خاصه توګه اوعرب په عامه توګه توټي توټي کړل په داسي حال کي چي بشپړ اتحاد ،بوالي اوتفاهم دوخت مهمه تقاضاده.

په ۱۹۶۷ م کال کي دشپږ ورځو جګړي نه وروسته دامنیت شورا د ۲۴۲ فیصلي ، پراساس غوښتنه وکړه چي اسرائیلپوځونه دي نیول شوي ځمکي خالي کړي دسیمي هیوادونه دي یوډبل حقوق په رسمیت وپیژني چي دخپلو پولو دننه په امنیت کي ژوند وکړي.

د ۱۹۷۳ م کال دروژي ترجنګ وروسته دامنیت شورا ۳۳۸ فیصله صادره کړه چي د ۲۴۲ فیصلي دفوري عملي کیدو غوښتنه پکي وشوه اوپه منځني ختیځ کي یې ددایمي سولي دټینګښت غوښتنه هم وکړه.

دملل متحد عمومي اسامبلي په ۱۹۴۷ کال کي د ۱۸۱ فیصلي پر اساس دفلسطین دویش غوښتنه کړي وه چي دهغي پر اساس د اسرائیلو دولت منځته راغي . عربي هیوادونو دنوموړي فیصلي مخالفت وکړ اوپه ۱۹۴۸ م کال کي دعربو.اسرائیلو جنګ پیل شو چي په نتیجه کي اسرائیلو هغه خاوره هم ونیوله چي دملل متحد په فیصله کي عربوته ورکړاي شوي وه .

څرنګه چي په ۲۴۲ فیصلي کي داسرائیلو دحکومت په رسمیت پیژندل غوښتل شوي وو ، نوعربي هیوادونو دهغي له منلو ډډه وکړه ،خو په ۱۹۷۸ م کال کي یوعربي هیواد مصرداسرائیلو سره په کمپ دیوډکي معاهده لاسلیك کړه ، له بلي خوا کله چي دنیول شوي فلسطین له مسجدونو څخه دانتفاضي آواز راپورته شو نو دفلسطین دآزادي دتنظیم دریځ هم ورسره پیاوړي شو چي په نیول شوي فلسطین کي دفلسطیني دولت د جوړیدو غوښتني هم په ټوله نړي کي ملاتړ ترلاسه کړ چي زیاترو اسلامي اوغیراسلامي هیوادونو یې حمایت اعلان کړ حتي چي دریګان په پلان کي هم دفلسطینیانو لپاره دملي حاکمیت غوښتنه شوي وه . حیرانوونکي خبره داده چي دامنیت دشورا په دواړو فیصلوکي دفلسطیني ستونزي دطرف په حیث نه پیژني په داسي حال کي چي داسرائیلي حکومت موجودیت یې په رسمیت پیژندلي دي.

تردي وروسته بیادملل متحد دعمومي اسامبلي له خوا ۳۳۷۵ فیصله پاس شوه چي دفلسطین دآزادي تنظیم یې دنوموړي ستونزي دیوه طرف په حیث په رسمیت وپیژاند . همدارنګه دجنرل اسامبلي د ۳۴۱۴ فیصلي پراساس دامنیت له شورا وغوښتل شول چي په منځني ختیځ کي ددایمي سولي دټینګښت لپاره دي چټك ګامونه پورته کړي اود پي ایل او ، په شمول دټول اړوند وخواؤ سره دي تماس ونیول شي .

دامنیت دشورا په ۲۴۲ فیصله کي که څه هم دفلسطینیانو لپاره دملي حاکمیت غوښتنه نده شوي ، مګر دفلسطیني ستونزي دحل لپاره یې دنړیوال کانفرانس دجوړیدو وړاندیز کړي ؤ، خو اسرائیل دي ته تیارنه شو چي دملل متحد په مشري مذاکرات پیل کړي.

اسرائیلو هڅه کوله چي پرته له . پي - ایل - او نورو عربي هیوادونو سره جلاجلا مخامخ خبري وکړي چي دوي سره دامکان په صورت کي پټه معامله وکړي او بایي دفلسطیني ستونزي له ملاتړ څخه لاس اخیستو ته تیارکړي.

دعربو- اسرائیلو دتنازع په تاریخ کي عربي هیوادونو په ګډه یاپه جلاجلا توګه هیڅ کله داتوان نه درلود چي داسرائیلو دپوځي طاقت مقابله وکړي ځکه چي داسرائیلو ترشا دامریکا په شان ستر طاقت ولاړدي.

نوعربوهڅه کوله چي له اسرائیلو سره دملل متحد په مشري بایه یوه نړیوال کانفرانس کي مذاکرات وکړي .

دجورج بوش د " ځمکه دسولي په بدل کي " پلان ټول هغه حقوق هم غصب کړل چي پورته یادشویو فیصلو کي عربوته ورکړاي شوي ؤ . دا کاتومیست اونیزي د ۱۹۹۱ م کال دنومبرپه دوهمه نیټه ولیکل چي : دهغه (بوش) لنډ شاتنه خطاب هرهغه څه ؤچي شامیر یې توقع درلوده ."

دبله طرفه دامریکا دخارجه چارو وزیر بیکر دشرقي بیت المقدس څخه داسرائیلو وتل له خطره ډك وګڼل اودملل متحد دفیصلو پرخلاف امریکا د اسرائیلو ددي غوښتني ملاتړ وکړ چي ټول بیت المقدس داسرائیلو د خاوري یوه برخه ده اومذاکرات پري نشي کیداي.

په داسي حال کي چي دملل متحد عمومي اسامبلي د ۳۲۵ اودامنیت شورا د ۲۵۲ او ۲۶۷ فیصلو پر اساس ډیره موده پخوا په اسرائیلي خاوري کي دبیت المقدس په شمول دنیول شویوخاورو شاملول منع ګرځیدلي . داسرائیلو سرغړونه له دي ځرګندیږي چي اعلان یې وکړ چي دشرقي بیت المقدس نماینده نشي کولاي چي په مذاکراتي ګروپ کي برخه واخلي.

عربي هیوادونو اوفلسطینیانو دامریکا له غوښتني سره سم داسرائیلو دغه وړاندیز ومانه اود مذاکراتو په هئیت کي له شرقي بیت المقدس څخه هیڅوك ګډون ونکړ. همدا راز په هئیت کي دفلسطین د آزادي تنظیم هم دبرخي اخیستو اجازه ورنکړاي شوه ځکه چي امریکا یې مخالفت کړي ؤ . له بلي خوا مخکي له دي چي مذاکرات پیل شي دالقدس شریف په باب فیصله وشوه چي په مذاکراتوکي به بحث پري ونشي.

په داسي حال کي چي دالقدس مسئله دټولي اسلامي نړي شریکه مسئله ده . دمراکش پادشاه حسني چي دالقدس دکمیټي رئیس دي باید دالقدس په باب له ټولو اسلامي هیوادو سره مشوره وکړي.

دافسوس خبره داده چي عربي هیوادونه او دفلسطین د آزادي تنظیم دي ته تیارشویدي چي ډیر ژر بیت المقدس اسرائیلو ته تسلیم کړي ، خو دا امید شته چي دحماس مجاهدین به په دي باب خپلي قرباني دریغ نکړي.

دعربي هیوادو سره په جلا جلاتوګه دمذاکراتو څخه داسرائیلو هدف دادي چي عرب ددي توان پیدانکړي چي خپله پالیسي په شریکه مرتب او وړاندي کړي . له بلي خوا په فلسطیني هئیت کي داسي شخصیت وجود نلري چي دمذاکراتو دتاکتیك مهارت ولري . اسرائیل دا هم غواړي چي له سوریي یالبنان سره پټه معامله وکړي اوفلسطینیان له وګر څخه بیرون کړي.

دیادولو وړده چي دملل متحد جنرل اسامبلي دخپلي ۳۳۷۵ فیصلي په بنیاد پي ایل او ته حق ورکړي چي دمنځني ختیځ دستونزي دحل په پروسه کي دي ګډون وکړي.

جورج بوش په خپل خطاب کي دنیول شویو ځمکوڅخه داسرائیلي پوځونو دوتلو نیتي ته هیڅ اشاره ونکړه اوزیاته یې کړه چي دوئلو عملیه به دبروخت ونیسي ، ددي پرعکس یې دفلسطینیانو څخه وغوښتل چي له صبراوحوصلي نه کار واخلي ، هدف یې ځرګند ؤ چي فلسطینیان باید داسرائیلو ترکنترول لاندي ژوند ته دوام ورکړي.

همدا راز د جنرل اسامبلي ۳۳۷۱ فیصلي فلسطیني مهاجرونه داحق ورکړي وچي خپل ټاټوبي ته بیرته راوګرځي اوغصب شوي جایدادونه به بیرته ورته وسپارل شي . خوتر اوسه پدي فیصله عمل ندي شوي .

ددي لپاره چي جورج بوش دواړو طرفونو ته ځان دمنصف په څیر ښودلي وي نوپه خپل خطاب کي یي اسرائیلو ته د " امنیت " عربوته د" عامي رفاه" دتحفواعلان وکړ .دملل متحد دفیصلو پرخلاف یې له عربو وغوښتل چي داسرائیلو دامنیت په خاطردي اسرائیلوته دخاوري مراعات اعلان کړي ، په داسي حال کي چي نوموړي باید له اسرائیلو غوښتي واي چي نیول شوي سیمي دي خالي کړي.

دغلته د" امنیت " لفظ ددي لپاره استعمال شوي چي دنیول شویو سیموڅخه داسرائیلي پوځونو دوتلوپه صورت کي هلته امریکایي قواوي دملل متحد په نوم ځاي پرځاي شي لکه چي دکمپ دیوډ ترمعاهدي وروسته دسینا په دښته کي همداسي شوي ؤ.

دعربو له خوا اسرائیلو ته دځمکي دمراعاتو ورکول دملل متحد د ۳۵۲۵ فیصلي پر خلاف عمل دي چي دهغي پراساس دنیول شویو ځمکو شاملول ،یهودو میشت کول، دعربو ایستل ، اوانتقال یې منع شوي ؤ.

جورج بوش اوبکر په نیول شویو سیموکي دیهودو پراپادولو سترګي پټي کړي ځکه چي اسرائیل غواړي چي یوملیون یهود دغلته اباد کړي . کله چي دایهودان دغلته میشته شي نوبیا دغلته بیرته فلسطینیانوته دځمکي ورکولو هیڅ سوال نه پیداکیږي.

دعامي رفاه هدف دادي چي دفلسطینیانو سرنوشت باید داسرائیلو پراسطه . تعین شي اوحتي فلسطینیانوته دداخلي خودمختاري حق هم نه ورکوي بلکه دجورج بوش دپلان سره سم په نظر کي نیول شوي چي نیول شوي سیمي دي داردن ترحاکمیت لاندي راشي.

دبوش پلان دملل متحد دفیصلو سپکاوي کوي . همداراز په نوي نړیوال نظام کي ملل متحد ته وظیفه سپارلي شوي ده چي امریکا یې احکام دي ترسره کړي.

دمذاکراتو په دوران کي داسرائیلو صدراعظم اسحاق شمیر له دي انکار وکړ چي ګویا د اسرائیلو دولت دملل متحد دعمومي اسامبلي د ۱۸۱ فیصلي پر اساس تشکیل شوي دي هغه وویل چي خداي تعالي - یهودوته دفلسطین خاوره تقریبا څلورزره کاله دمخه په میراث ورکړي وه . دتورات دتکوین دفصل په حواله اسرائیل دعوالري چي له مصره تر فرات سیند پوري ځمکو دیهودو په سیمه کي شاملي وي . نوله دي ځرګندیږي چي اسرائیل نه یوازي دنیول شویو ځمکو پریښودوته تیاردي ، بلکه غواړي چي مصر ،سوریه ،لبنان اودعراق ځیني برخي هم په اسرائیلوکي شامل کړي.

داهم حقیقت دي چي داسرائیلوددولت په جوړیدوکي نړیوال صهیونیزم ستررول لوبولي دي چي داسرائیلو دولت اوس دهغه دکلکي کلاحیثیت پیداکړي دي .

په ۱۹۴۲ م کال کي دصهیونیستي غورځنګ مشرانو په نیویارك کي دبالتیمور په هوټل کي یوکانفرانس جوړکړ چي فلسطین کي یې دیهودو دکامنولت دجوړیدو مسوده تصویب کړه چي بالاخره په ۱۹۴۸ م کال کي داسرائیلو ددولت دجوړیدو سبب شو.

په ۱۹۵۱ م کال کي په بیت المقدس کي دصیهونیست کانګرس دوریشتمه غونډه وشوه چي دبالتیمور پلان یې تائید کړ اودهغه پر اساس یې دبیت المقدس پلان تصویب کړ چي غټ ټکي یې دادي : داسرائیلي دولت ټینګښت ، له نورو هیوادو څخه دي یهود فلسطین ته راغونډ کړاي شي ، دیهودو ترمنځ دي اتحاد ټینګ شي. صهیونیستي ځوانان دي په ټوله نړي کي تحریك کړاي شي چي داسرائیلو انکشاف کي فعاله برخه واخلي .

څرګنده ده چي صهیونیزم له اسرائیلي دولت ډیري سیکي دوه مخونه دي پراختیاغوښتونکي صیهونیزم داسلام لپاره ستر چلنج دي دصهیونیستي دولت اودهغه دملاتړ کوونکو پرخلاف یوازي داسلامي جهاد پواسطه مقابله کیداي شي.

لکه چي خداي تعالي فرمایي : الله تاسي له دي خبري نه منع کوي چي تاسي له هغو خلکو سره دنیکي اوعدل چلند وکړي چي هغو ددین په باب له تاسي سره جنګ ندي کړي اوتاسي یې له خپلو کورونو څخه یې نه یې ویستلي . الله عدل کوونکي خوښوي . هغه چي له کومي خبري تاسي منع کوي هغه داده چي تاسي له هغو خلکو سره دوستي وکړي چي هغوي له تاسي سره ددین په معامله کي جنګیدلي دي اوتاسي یې له خپلو کورونو نه ویستلي یې اوستاسي په ویستلو کي یې یوډبل سره ملاتړ کړیدي . له هغو سره چي کوم کسان دوستي وکړي هغوي ظالمان دي . پراسلامي هیوادونو لازمه ده چي په نړیوالو روابطو کي ددغو هدایاتو په رڼاکي عمل وکړي.

مقصد ازمراعات صله رحم آنست که انسان حقوق خویشاوندان واقربای خویش رامطابق به احکام شریعت اداء نموده وروابط حسنه ونیك راباایشان رعایت کند وپیوسته ازاحوال وشرایط زندگی آنها خبرگیری نماید ودرصورت لزوم باآنها کمك مادي ومعنوي مراعات صله رحمي دردین اسلام داراي مقام بلند است بنابران کسانیکه این حکم شریعت رامرعات نمیکنند گنهگارومجرم محسوب مي شوندو به مرتکبین این گناه به انواع عذاب هاي سخت وعده داده مي شود طوریکه خداوند درسوره محمد (ص) درآیات ۲۳ - ۲٤ چنین مي فرماید : اي مردم وقتیکه شمامتولي وحاکم روي زمین گردیدیعني حکومت زمین بشماسپرده شودآیا ممکن است که شمادرروي زمین فتنه وفساد برپاکنید وصله رحم رامراعات ننموده وآنراقطع نمائید . کسانیکه این اعمال بدومنکررا مرتکب مي شوند اشخاصي اند که خداوند گوش هاي شان راکروچشم هاي شان راکورکرده است .

ازین آیت چنین فهمیده مي شود اگرکسي داراي گوش حق شنو وچشم حق بین باشد نه درروي زمین فسادمیکند نه صله رحم راقطع مي نماید، بلکه دراعمال واقوالش حکم خدا ورسول را رعایت میکند .

بدي وقباحت قطع صله رحم باندازه بزرگ است که خداوند آنرا بافساد وفتنه حکام وزعما یکجا ذکرمیکند وهردوي شان رایك حکم میدهدو جزاي هردو رانیزیکسان میداند که عبارت است ازنزول لعنت خدا وبرکسیکه لعنت خدانازل شود آن شخص مستحق هرگونه عذاب الهي مي گرددزیرا معني لعنت دورشدن ازرحمت الهي است کسیکه از لطف ورحمت الهي محروم وبي بهره گردد آن شخص مستحق عذاب دوزخ است بنابران آخرین نتیجه این فعل دخول درآتش دوزخ است .

اگردرآیت باردیگرمتوجه شویدمیدانیدکه اندك ترین فساد ، ظلم وفتنه زعماء وصاحبان امر چه اندازه بزرگ بوده وچه تباهي ، بي عدالتي ، حتي کشت و خون رابوجود مي آورد واین کارېلات خود گناه عظیم دنابخشودني است .

چون مراعات صله رحم ازجمله اوامر دین است بنابران قطع آن ازگناهان کبیره محسوب مي شود طوریکه پیشتراظهارداشتیم مرتکب آن مستحق دخول آتش مي گردد . چنانچه حضرت جبیرابن مطعم (رض) از طریق پدرش ازحضرت رسول الله (ص) روایت میکند که فرمود : لایدخل الجنة قاطع . یعني شخصیکه صله رحم ورشته قرابت راقطع کند درجنت داخل نمیشود وشخصي ازدخول جنت ونعمت هاي آن

مراعات صله رحم

پوهاند شهراني

محروم مي شودکه مرتکب گناه کبیره شده باشد وجزاي گناه کبیره محرومیت ازبهشت برین وداخل شدن درآتش دوزخ است .

درمراعات کردن صله رحم شخص نیك وبدوصالح وطالح یکسان وبرابرحقوق دارد ونیك وبد ویاخوب وخراب بودن شخص سبب ضیاع حق اوویاعلت قطع رشته قرابت شده نمیتواند بلکه ممکن است اشخاص بدوناصالح بامراعات این حقوق ازطرف خویشاوندان واقرباي شان براه راست ونیك هدایت شوند وازگمراهي وضلالت شان رجوع نمایند زیرا درتاریخ اسلام بسیاردیده شده که اشخاص فاسد وگمراه باآشناشدن بااشخاص نیك ودیادیدن اخلاق اسلامي وکردار دیني ایشان ازگمراهي خود نادم شده و خوي واخلاق آنهارا به جوذگرفته اند واین صله رحم نمونه عملي اخلاق اسلامي است .

درحدیث است که حضرت رسول الله (ص) فرموده : اگرکسي اقارب ضعیف وفقیر داشته باشد وبه ایشان احسان ومعاونت نکند . درحالیکه ایشان بکمك ومساعدت اومحتاج باشند واوکمك وصدقات مالي رابه غیرآنها بدهد وایشان را بهمان حالت سابق محتاج بگذارد خداوند این صدقه وخیرات اورا قبول نمیکند ودرروزقیامت بسوي وي به نظر رحمت ولطف نمي نگرد ونه باوي سخن لطف آمیز مي گوید : ببینید که این شخص بخاطراینکه صدقه وخیراتش را به اقارب وخویشاوندان خود نمیدهد چنین مجازات مي شود : صدقه اش درنزد خدامورد قبول واقع نمیشود بنابران مستحق ثواب نمي شود مال وي بدون مفاد میرود ودرروزقیامت ازنظرلطف ومرحمت الهي محروم وبي بهره مي گردد وازسخنان لطف وترحم الهي که انسان در روزقیامت بآن سخت احتیاج دارد محروم مي ماند .

پس هرکسیکه بااقارب مخصوصا اقارب ضعیف وناتوان خود رابطه اش راقطع کند واز روي تکبر وغروربا ایشان بطور وآمد ننماید وکمك واحسانش راازیشان دریغ داشته وآنهارا اهل ومستحق این کمك نداند درین وعید شامل مي شود چون وي مرتکب گناه کبیره شده است که باید ازآن توبه کند .

صله رحم سلسله ، مراتب وانواع مختلف دارد که ازسلام دادن و لطف وانسانیت زباني شروع شده تاکمك هاي اقتصادي ومالي رادربرمي گیرد واین کمك هاي مالي نیز به اندازه ومقدارمعین نیست زیراکه نظر به ثروتمندي وحالت اقتصادي انسان تغیر مي خورد .

سلام دادن ،لطف و خوش زباني پائین ترین مراتب آن است و مراتب دیگر آن دراحادیث معین نگردیده بلکه طوریکه گفتیم بحالت وشرایط زندگي اشخاص مربوط است که هرکس نظربقدرت وتوانائیش آنرامراعات مي نماید .

مراعات صله رحم علاوه برثواب اخروي، سبب ایجاد محبت برادري ، اخوت ، اتحاد واتفاق دنیوي مي گردد، که آن خودش یك امرشرعي است که باید مسلمانان یکي بردیگري همدردي داشته ودست تعاون بریکدیگر درازنمایند . تا دراثر آن همه مسلمانان دریك فضاي صمیمیت ، دوستي ، حسن نظر، اتحاد واتفاق ووحدت نظر و عمل زندگي کنند وازاختلاف وتشتت برکنارمانند .

حضرت رسول الله (ص) درحدیثي که بخاري ومسلم روایت میکنند چنین مي فرماید : کسیکه خوش دارد که در روزي ورزق وي ...دت ودرعمروي درازي ودراجلش ...خرشود بایدکه صله رحم را مراعات نماید

به همین ترتیب درحدیث دیگر واردشده چنانچه ازحضرت ابوهریره «رض» روایت است که رسول الله (ص) فرمودند : کسیکه بخدا وروزقیامت ایمان دارد باید که مهمانش رااکرام کندوکسیکه بخدا و روزقیامت ایمان دارد باید که صله رحم رامراعات نماید وکسیکه بخداوروزقیامت ایمان دارد باید که به خیرسخن بگوید ویاکه خاموش بنشیند . ازحضرت عائشه صدیقه «رض» روایت است که رسول الله (ص) فرمودند : رحم درعرش معلق است ومي گوید، اي خداکسیکه مراوصل میکند (صله رحم رامراعات میکند) تونیز او وصل کن وکسیکه مراقطع میکند تواوي قطع کن .

پس معلوم مي شود که مراعات صله رحم یااولوالارحام وصاحبان قرابت ورحم سبب نزدیکي وتقرب بخداوند است ودوري وقطع ازایشان سبب دوري وقطع ازخدا است .

برادر مطیع الله "مؤدی" معاون جبهه مرکز غزني درمصاحبه باشهادت

سوال : روابط مجاهدین حزب را باسائرتنظیم ها درآن ولایت چگونه ارزیابي مي کنید ؟

جواب : مجاهدین حزب اسلامي درغزني باسایر مجاهدین وتنظیم ها روابط حسنه داشته که درولایت غزني صرف حزب اسلامي،حرکت انقلاب اسلامي ، اتحا داسلامي وتنظیم هاي ازبرادران اهل تشیع میباشد .

سوال : به نظرشماعوامل بقاي رژیم کابل در چه چیز نهفته است ؟

جواب : عوامل تداوم وبقاي رژیم ملحد ادامه کمك هاي روسها بوده وهمچنان افراد گماشته شده که از باداران خارجي وداخلي شان دستور گرفته درین صفوف مجاهدین به عناوین مختلف خود را جا زده وتمام فعالیت هایشان به نفع رژیم مزدور تمام میشود دربقاي رژیم نقش دارد .

سوال : نظرشمادرموردعملیات هم آهنگ وسرتاسري مجاهدین چیست ؟

جواب : باوجود که وضع سیاسي ،نظامي دولت نهایتا خراب است وبکمك وياري خداوند قدیر بايك ضربه كاري نابودمیشود ولي متاسفانه نسبت يك سلسله عوامل وانگیزه هاي مختلف تا اکنون تمام قوت هاي جهادي درسطح تنظیم هاي مختلف نتوانسته اندکه درین زمینه موقف مشترك رااتخاذ نمایند ویا بسیج نمودن قوت هاي خویش عملیات سرتاسري رادرولایت غزني به راه بیندازند . یگانه علت واقعي این انگیزه این است که دولت ملحد توانسته است با استخدام یك تعداد افراد درمیان صفوف مجاهدین نفاق رادامن بزند. واز جانب دیگربامصارفات وتطمیع پولي ذهنیت یکتعداد افراد جبون وترسو راتغیرداده است که مانع عملیات عمومي وسرتاسري مي گردد .

سوال : نظرشمادرمورد شوراي قیادي چگونه است ؟

جواب : تاسیس شوراي قیادي که اکثر رهبران تنظیم هاي جهادي آنرا تصویب نموده بخاطر براوردساختن آرمان والاي مجاهدین ما است که بدست پرتوان مجاهدین حکومت اسلامي درافغانستان عزیز تاسیس شود موردتائید ماقرار دارد وبه این آرزوهستیم که تمام تنظیم هاي جهادي باتصمیم گیري مشترك شان درافغانستان عزیز بالاخره قیادت واحد رابوجود آورده ودرزابرخون یك ونیم ملیون شهداي عزیز کشور رسالت ومسوولیت هاي ایماني شان را مطابق احکام الهي ایفا نمایند.

سوال : به نظر شماراه حل قضیه افغانستان از طریق سیاسي بهتراست یانظامي ؟

جواب : بهتر است فشارنظامي بالاي رژیم ملحد ادامه داشته وعملیات ها قطع نگردد. وبامطالعه از وضع یگانه راه حل همین است ... تادشمن نتواندنفس آرام بکشد حل قضیه در میز مذاکرات واضح است که به نفع مجاهدین بوده حکومت دلخواه اجانب درافغانستان تاسیس مي شود .

سوال : از خاطرات جهادي تان اگرچیزي بیاد داشته باشید؟

جواب : گرچه هر لحظه مردم قهرمان افغانستان خاطره وداستان است وخاطرات جهادي بنده نیز زیاد میباشد.

بهرصورت يك خاطره خیلي معجزه آسا راخدمت خوانندگان گرامي عرض میتمایم وآن اینکه :

مجاهدین کفر شکن این جبهه درسال ۱۳٦٤ تصمیم گرفته تا ولسوالي جغتو وعلاقه داري خواجه عمري را که دریك جاي حساس موقعیت داشت تصرف نماید پلان توسط شوراي نظامي قرارگاه طرح وعملیات ساعت دوبجه بعد ازظهرشروع وساعت دوبجه وپانزده دقیقه پایان یافت ولسوالي فتح شد ولسوال ،آمرخاد، وقوماندان فرقه مردار ، قوماندان ځارندوي ،قوماندان ملیشه ،قوماندان کندك تانك همراه با چهل نفرعسکروملیشه زنده دستگیرگردیدند یك عراده تانك زرهي وچهارمیل هاوان وسط چهارمیل ماشیندار خفیف گرینوف وچهارمیل پیکا سي وشش میل کلاشینکوف پانزده میل یازده تیر وبه تعداد هشت موترمهمات ومواد لوژستیکي به دست مجاهدین افتاد خاطره خوش وموفقانه ما ازین عملیات اینست که خداوند خیرالناصرین با تائید ونصرت الهي اش مجاهدین کرام این سنگرتوحید را چنان جرات بخشید که درروزروشن ساعت دوبجه بعداز ظهردرحالیکه دوعراده موترسرویس رعیتي راطبق معمول وطورعادي به کرایه گرفته بودند به یك قوماندہ واحد باسردادن تکبیرالله اکبربه صورت آني وفوري درپیش روي ولسوالي ازموتر ها پائین شدند وبایك حمله منظم مجال نفس کشیدن به دشمن راندادند وتمام ولسوالي رادرمحاصره کشیدند که بعد از مقاومت جزئي دشمن تمام ولسوالي بدست پرتوان مجاهدین فتح گردید.

سوال : ازملاقات هاي هئیت روسي دراسلام آباد بارهبران مجاهدین دررابطه به حل قضیه افغانستان چه برداشت مي کنید ؟

جواب : روس ها حسن نیت درقبال ملت ووطن ماندارندیگانه هدف آنها آزادي اسیران جنگي روسي میباشد وبس وهمچنان باتعهدات خوداستوار نیستند سلسله کمك هاي نظامي به پیمانه وسیع جریان داشته و در بقاي رژیم تلاش مي نمایند .

سوال : اگرکدام پیامي داشته باشید؟

جواب : پیام بنده به سنگرداران اسلام عزیز چنین است که وحدت خود را حفظ نمایند چراکه وحدت ماضامن بقاي ماست . وباتصمیم واحد ونظم وپلان درست هرچه بیشتربه عملیات هاي خویش ادامه داده تا آرمان خون شهداي گلگون کفن ما تحقق یافته بانصرت الهي حکومت دروطن عزیزما استقراریابد.

دتخلص انتخاب

محمد داؤد دوحدت اسلامي دلیسي استاد دځان لپاره د"حقیار" تخلص غوره کړي دي له دوستانو غواړي چي تردي وروسته بي په نوموړي تخلص وپېژني .

دگردیز دجگړي دشهیدانو په ویاړ ...

درسمند، تل ، سده ، پاراچنار، بنو ، میرانشاه او نورو سیمو مهاجرینو اوانصارو همدارازد پېښور اودافغانستان دننه څخه هم ګڼیني کسانو ځانونه وارسولي وو . دخلکو دراتګ لړي دیکشنبي له ورځي نه پیل شوي وه .

دغونډي خاص نظم اوانضباط اودکنفرانس په محل کي بي شمیرو شعارونو اوشنوپېرغونو غونډه لاشانداره

کړي وه . ستیژ په يو هواراوبراخ ډګرکي جوړشوي و دغونډي ځاي ته دحزب اسلامي افغانستان دامیر مجاهدورورحکمتیار داجرائیه شورا دغړو اوورسره میلمنو کاروان دسهارپه لسو بجو په داسي حال کي ورسید چي دخلکو دالله اکبر اوانقلابي شعارونو غږونو فضا ډکه کړي وه .

غونډه دسهارپه ۱۵ : ۱۰ بجو دقرآن عظیم الشان په تلاوت سره پیل شوه ، وروسته دحزب اسلامي دسیاسي چارو رئیس مجاهد ورور انجنیرقطب الدین "هلال" وویل : نن ورځ موږاوتاسي راغونډشوي يو ددي لپاره چي دشهیدانو پاکو ارواحوته دعاوکړو اودهغوي کورنیوته دلوي خداي جل جلاله له دربارڅخه دستراجراوصبرغوښتنه وکړو . دافغانستان ټولي دري ، کاني اوبوټي دشهیدانو په پاکوويني سره دي زموږ په هیوادکي داسي دري نشته چي هلته دکوم شهید وینه نه وي توي شوي . ددي شهیدانو په کاروان کي دپکتیا ولایت مؤمن مجاهدین هم لوېه ونډه لري دګردیز جګړه ورروستي مثال دي چي زموږ بهادر مجاهدین په کي بوخت دي ـ ددغي جګړي په نتیجه کي زموږ لوېر قوماندانان اومجاهدین شهیدان شول او دادي موږاوتاسي دهغوي په ویاړ راغونډ شوي يو که څه هم افغانانلود یونیم ملیون څخه زیات شهیدان ورکړي اوینځه ملیونه هجرت ته اړشول خودایوهم عبث نه وو . دهمدغوشهیداو دوینو په برکت کمونیزم ختم شو، په نظرياتي اوعملي لحاظ بي ماتي وخوړه ، که هرڅوك بي په هرقسم توجیه کوي خودکمونیزم دورکیدو اودشوروي دمنحل کیدو یواځیني سترعامل دافغانستان جهاد اومجاهدینو شهادتونه دي هغه زیاته کړه که څه هم دافغانستان په تاریخ کي دجدي شپږمه د یوي غمجني ورځي په حیث غندوځکه داهغه ورځ ده چي وحشي روسانو زموږ پرهیواد یرغل کړي وو خوله بلي خوادادخوشحالي ورځ هم ده . په همدي ورځ کمونیزم اودهغه استبدادي سیستم ختم شو اوسره جنډه بي هم په همدي ورځ له کرملین نه راکوزه شوه .

خونن بیاوینو چي دمجاهدینو دپاك آرمان په وړاندي بېلابېلي توطیي رواني دي . باید زموږ خلك دي توطئوته په زیرکي اوهوښیاري سره متوجه شي موږباورلرو چي زموږملت نه دوکه کیږي ، زموږ ملت په هلته قانع کیږي چي په افغانستان کي دمجاهدینو په لاس یوسپېڅلي اسلامي حکومت رامنځته شي .

وروسته دشهیدحبیب الرحمن دلیسي زده کوونکو دترانې ټیم يوه انقلابي ترانه وړاندي کړه چي دټولو دپاملرني وړوګرځیده .

دترانې مطلع وه " دامللك دغازیانو کورنه غواړي غربي بلا دادشهیدانو کورنه غواړي شرقي بلا "

وروسي دپکتیا ولایت دجهاد امیر اودشهید جهادوال دفرقي قوماندان

مجاهد ورور انجنیر فیض محمد دپکتیا ولایت دجهاددامارت اعلامیه او دګردیز دوروستیو جګړو دشهیداو لنډه پیژندګلوي حاضرینوته واوروله چي دټولو دخاصي پاملرني وړوګرځیده .

(دنوموړي اعلامیي بشپړمتن په همدي ګڼي کي لوستلي شي)

وروسته مجاهد ورور حاجي صاحب دواجان دپکتیا ولایت قومي مشر اودمرحوم حاجي خان کوچي ورور خپله وینا واوروله ، حاجي صاحب دخپلو خبرو په دوام کي وویل : زه دپکتیا دکوچیانو دقومونو په نمایندګي دروانو حالاتو او زموږدهغو په اړوند خپل موقف په هکله وایم چي : ترټولو لومړي خودګردیز په جګړي کي دخومره شهیدان چي شوي لوي خداي جل جلاله دي ټول وبښي اوددوي دوینو په برکت دي افغانستان کي یواسلامي حکومت راولي ، زموږ دوسلوال جهادته دادي څه دپاسه دیارلس کاله تیریږي ددي جهاد په نتیجه کي موږبي کوره شوو، رازراز کړاوونه اومصیبتونه موږګاللي او زموږ بي شمیره عزیزان په ځانونو کي واچول شول شهیدان شول وروڼه شمیر یي هم لادرکه دي . داولي شوي ؟ دایوه ثابته خبره ده چي دکفري حکومت په ځاي يو سوچه اسلامي حکومت راوستلو لپاره وو . خو یوشمیر کسانو چي په اروپا اونورو ملکونوکي په عیشو نوکي ډوب دي غواړي یوځل بیا دظاهرشاه بي ثباته ککړي راولي اوزموږ په ملت بي وتپي اوزموږوددي سترجهاد ثمري په اوبو کي لاهوکړي هغه زیاته کړه : هغه په خلوېښت کاله حکومت کي څه کړي چي اوس به بي وکړي ؟ داهرچاته معلومه ده اوحق به وایو . ماته یوه خاطره را په یاده چي یووخت ظاهرشاه په مرکزي ولایتونو کي شپاړس ورځني دوره درلوده زه هم له ده سره دوه شپي اودوه ورځي وم . باوروکړي چي دي بنده ذات الله اکبرونکړ، مادده لمونځ ترخوچي زه ورسره وم ونه لید . نوري دیني چاري خولاپریږده نودابه څنګه راځي ؟ ظاهرشاه چي امریکائیان اونورکافران بي غواړي دابه موږڅنګه غواړو ؟ ده دعلماي کرامو سره څه وکړل ؟ دقندهارعلمابه بي مزارته اودجلال آباد به بي هرات ته جبرا بنقول ترڅولالهانده وي اوبه ټولني کي خپل ځاي ونه مومي ، په هغوي باندي ملنډوي وهل کیدي . موږ بي قطعا نه منو، موږ فکرکولو چي روسان ووتل نوجهاد به پاي ته ورسیږي

خوچي اوس دظاهرشاه دراوستلو په شان دسپېرو شاهدان یو، نوبدي موبقین راغلي چي زموږدغه جهادبه تروېره همداسي جاري وي ترڅوددغه دسپېي کاملا شنډي کړو، دغوتیروحاکمانو وپرجنایتونه کړي ددوي ځېري باید محاکمه شي موږ به دجهادحاصل بل هیچا ته په لاس کي ورنکړو . دابه هغه چاته ورکول کیږي چي په جهادکي بي ونډه اخیستي وي اوله مجاهدینو سره اوږه په اوږه ودریدلي وي .

دحاجي صاحب تروینا وروسته دجهادپوهنتون محصلینو دترانې ټیم يوه انقلابي اوجهادي ترانه د" من پاسدارخون شهیدان میهنم " تر عنوان لاندي حاضرینوته واوروله چي دټولو دپام وړوګرځیده .

وروسي حاجي صاحب شیرین دل دپکتیا ولایت یوتن قومي مشر اودځدراڼو دسیمي قوماندان یوه جذابه ویناواوروله ، حاجي صاحب وویل : کومي خبري چي حاجي صاحب دواجان وکړي دازموږخبري هم دي هغه زیاته کړه موږباید ددښمن توطئو باندي ونه غولیږو زه نه پوهیږم دابه څنګه یومسلمان ومنلاي شي چي یونیم ملیون شهیدان بي ورکړي وي، اوبیادي دنجیب اوظاهرشاه په

شان خائنو خلکو سره په ګډه کېني او دهغوي حکومت دي ومني . ظاهرشاه په څلوېښتوکلونو کي څه وکړل ، کوم نیك کاربه بي موږراپادکړو، همده موږبه پردو خرڅ کړو اوکمونستان بي راپاندي مسلط کړل، هغه وویل : موږچي کله داجهاد پیل کولو شمیر موږ برکم وو ، وسائل مو هیڅ نه درلودل دخداي نه پرته بل هیڅاهم له موږسره مرسته نه کوله خوموږجهادکولو . خونن الحمد لله داسي کلي اوکورنشته چي په هغه کي مجاهدنه وي اودجهاد په لاره کي شهیدان نه وي ورکړي . هغه زیاته کړه اوس که په موږ باندي ټولي مرستي بندي هم شي .

تاسو په خپل کلي اوکورکي وګوري چي که یوڅوك له تاسونه یو ګس ووژني آیاتاسو ورسره کیني او ډوډي ورسره خوري ؟ نه ! هیڅکله هم داسي نشي کیداي . نودابه څنګه بي غیرته افغان اومسلمان بیا خصوصا مجاهد وي چي خپل یونیم ملیون شهیدان هیرکړي اودهغوي له قاتلانوسره دوستي وکړي . موږ بي هیڅکله نه منو. دازموږ آخریني اوقطعي فیصله ده .

بوانصار وروومولوي صاحب ګلاب شاه هم په خپل وارسره یوه انقلابي وینا واوروله . مولوي صاحب وویل چي : موږدځړوتو دمسلمانو خلکوپه نمایندګي دمجاهدوورور حکمتیارراتلو ته خیرمقدم وایو اوددوي سره یوځاي دجهاد ټولو مشرانوته ښه راغلاست وایم .

دافغانستان مسلمان اومجاهدخلك موږته دمکان اوقوم اودهرتوږڅه په نسبت نږدي دي ، موږله هغوسره دکمونستانواو کفار و پرضد مبارزه کي مل او ملګري یو له موږسره دیني اواسلامي کلکي اړیکي لري . موږ ټولو دلوي خداي جل جلاله سره داتعهد دي چي زموږجهادبه داسلامي حکومت ترقائمیدو پوري جاري وي .

په پښتوکي یومتل دي چي راپه پادشو چي " که اپن کوي که پین کوي داپښې به شین کوي. " که کفارهرڅومره دسیسي کوي خواسلامي حکومت به خامخا راځي، په افغانستان کي اسلامي حکومت راتلل ماته کاملا یقیني دي ، خو خداي پاك جل جلاله دي په لنډوخت کي زموږ په نصیب وګرځوي .

وروسته دجمیعة الطلبه پاکستان پخواني مشر مجاهد ورور سراج الحق

خپله انقلابي او له شوره ډکه وینا پرخوالو ته واوروله ده وویل : دمجاهدینو

دقدرمن مشرجناب انجنیرصاحب ګلبدین حکمتیار اودجهاد قائدینو ، مجاهدینو اومهاجرینو وروڼو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

موږله لاهورڅه دحکمتیار صاحب اوتاسو لیدو ته راغلي یو . همدارازراغلي یو چي دګردیز دجګړي دشهداو دقاتحي په مراسمو کي ګډون وکړو .

دادخوشحالي ځاي دي چي دپکتیا شهیدانوخاص تعلق دافغانستان سره نشته بلکي پدي کي زموږ پاکستاني وروڼو ګواتانو، محصلینو برخه هم شته ځکه دادمسلمانانو ګډه مسئله ده ، هرمسلمان باید پکي برخه واخلي .

